# په پښتو ادب کښې د ايوب صابر انفراديت

## Pecularity of Ayub Sabir in Pashto Literature

ډاکټر شېرزمان سيماب*
ډاکټر فرخنده حيات*
شاکر اورکزی*

**Abstract:**

Ayub sabir is one of the brilliant writers of modern Pashto literature besides urdu. His poetry, fiction and journalistic services has always been appreciated which has its own style and techniques. He is considered one of the associates of progressive, nationalistic and liberal thoughts. He adores his nations depicted in his poetry but completely with new approach. The author of this paper thoroughly investigated his message and technical approach of writings.

د شلمې پيړۍ دا دور هغه دور دی چې پښتو شعر و ادب د ژوند د نوو رجحاناتو سره اشنا شو. دې دور کښې داسې نومونه مخې ته راغلو چې هغوی د پښتو دپاره شپه او ورځ کار وکړو او هم د هغوی د کار برکت دی چې نن مونږ په پښتو فخر کوو. په دې دور کښې نوي نوي صنفونه پښتو ته راغلل. د پښتو د شعر سره سره په نثر کښې هم دومره کار وشو چې د راتلونکي دور دپاره بنياد جوړ شو او مخکښې دپاره لاره هواره شوه. پښتو ناول، افسانه، ډرامه او تکل هم د دې دور پېداوار دی. په تحقيق او تنقيد کښې هم تر يو حده حوصله افزا کار وشو. د پښتو جديد نظم او بيا خصوصاً ازاد نظم هم په پښتو کښې رواج ومونده. صنوبر حسېن کاکاجي، امير حمزه خان شينواري، دوست محمد خان کامل، ايوب صابر، قلندر مومند، عبدالاکبر خان اکبر، راحت زاخيلي، بهادر شاه ظفرکاکاخېل، سمندر خان سمندر،سيدرسول رسا، غني خان، ولي محمد طوفان، لطيف وهمي، صاحبزاده فېضي، سيف الرحمان سليم، اجمل خټک، عبدالحليم اثر، سيد تقويم الحق کاکاخېل، مولانا عبدالقادر، پرېشان خټک، عبدالرحيم مجذوب، رحمت الله درد، ډاکټر محمد اعظم اعظم، شمس القمر اندېش، اشرف مفتون، اکرام الله ګران، ربنواز مايل، سليم راز، طاهر کلاچوي،شېر زمان طايزی، اياز داودزی، قمر راهي او داسې نور. دا هغه نومونه دي چې په شلمه پيړۍ کښې يې د پښتو

* Junior Research Officer, Pashto Academy, University of Peshawar
* Associate Professor, Pashto Academy, University of Peshawar
* Ph.D Scholar, Pashto Academy, University of Peshawar

دپاره ډېر د قدروړکار کړی دی. په دې دور کښې په شعر او نثر دواړو کښې هم د مقدار او هم د معیار په حواله کافي کار شوی دی. هغه که جدید نظم دی که جدید غزل، افسانه ده که ډرامه، ناول نګاري ده که تحقیق و تنقید او یا تاریخ. لنډه دا چې که د خوشحال دور ته د پښتو زرین دور وئیلی شي نو د شلمې پیړۍ دې دور ته د دومره کار په اساس د پښتو زرین تر دور وئیل په کار دي.

ایوب صابر هم د دغه دور یو ډېر ښکاره او معتبر نوم دی څوک چې په کال نولس سوه دوه ویشت (۱۹۲۲) کښې د کوهاټ په ځنګل خېلو کښې زېږېدلی ؤ"(1)

د ملک په مختلفو ادارو کښې د روزګار کولو نه پس په اخر کښې په جناح لائبریرۍ کوهاټ کښې لائبریرین ؤ. په شروع کښې یې د اردو شاعري کوله خو بیا وروسته یې ورسره د پښتو شاعري هم پېل کړه. ایوب صابر په دواړو ژبو کښې معیاري لیکونه کړي دي. په دواړو ژبو کښې د ایوب صابر نظم او نثر ته په درنه سترګه کتلی شي. د ایوب صابر په پښتو او اردو کښې د مقام په حق له امیر حمزه خان شینواري په یوه قطعه کښې داسې وایي:

د ادب تاریخ به څۀ کړي فېصله په مستقبل کښې
چې په دواړو کښې یو شان دی څۀ به وایي چې د چا دی
شخصیت د صابر څۀ دی د ادب بابا نانک دی
اردو وایي چې زما دی پښتو وایي چې زما دی"(2)

یوه خبره چې هر چرته اورېدلی کېږي چې یو تن په یو وخت یو کار ښۀ کولی شي مثلاً امیر حمزه شینواري چې د غزل بابا دی په غزل کښې ئې لوی نوم پیدا کړی دی او اجمل خټک چې د نظم د بابا په نوم یادېږي. دغه شان ځینې کسان نثر ښۀ لیکلی شي خو شاعري ښېخي نۀ شي کولی او ځینې ښۀ شاعران د نثر په مېدان کښې پاتې راغلي دي. د حمزه شینواري هم دغه نظر ؤ چې ښۀ شاعر ښۀ نثر نګار نۀ شي کېدی خو هر کله چې هغوی د ایوب صابر نظم او نثر دواړه ولیدل نو متاثره شو او اعتراف یې وکړو چې ایوب صابر زما وېنا غلطه ثابته کړه"(3)

"ځیګر خون " په پښتو کښې د ایوب صابر یواځینې شعري مجموعه ده چې په خپل ژوند یې چاپ کړې ده. تر دې دمه ځیګر خون درې ځله چاپ شوی دی. په یو وخت کښې د پېښور پوهنتون د ایم.اې په نصاب کښې هم شامل ؤ.

"جدید پښتو ادب" په اردو کښې هغه شاهکار کتاب دی چې د خپل وخت ټولو سترو ادبي شخصیاتو په ادبي کارنامو یې مختصر مګر جامع بحث کړی دی. دا د ایوب صابر په پښتو ادب ستر احسان دی چې د پښتو شاعران ادیبان یې د اردودانې طبقې سره معرفي کړي دي. د ایوب صابر دا اراده وه چې دا سلسله مخکښې جاري وساتي خو ژوند ورسره وفا ونۀ کړه. دا کتاب اوس هم دومره

جدید دی چې څومره په هغه وخت کښې جدید ؤ په دې چې په ټولو جدیدو اصنافو او جدیدو لیکوالو ئې جامع تبصره کړې ده.

"اس حمام میں" يې د اردو د هغه مشهورو کالمونو مجموعه ده کوم چې ئې ورځپاڼه "بانګ حرم" دپاره لیکلي وو خو وروستو يې ورته د مضامینو شکل ورکړو.

"درنګ" "د پښتو متلونه" او "خاکې" يې د ناچاپ کتابونو نامې دي چې ایوب صابر يې په خپله ذکر کړی دی خو لاتردې دمه نۀ دي چاپ شوي.

ایوب صابر دوه افسانې "هغه ښکلي لاسونه" او "خالي جېب" هم لیکلې دي. دې نه علاوه يې يو څو ډرامې هم لیکلې دي چې يوه په کښې په قند مردان کښې د "زخمونو" په نوم چاپ هم ده. په مختلفو رسالو او اخبارونو کښې يې وخت په وخت تکلونه هم چاپ شوي دي. دې نه علاوه يې بې شمېره مضمونونه او مقالې هم لیکلې دي چې د هغه وخت په مختلفو اخبارونو او رسالو کښې چاپ شوي دي. ایوب صابر يو شمېر ترجمې هم کړې دي چې په کښې د ټي اېس ایلیټ د څلورو مضمونونو ترجمې هم شاملې دي.

"منحرف" يې د اردو شعري مجموعه ده چې د ایوب صابر د مرګ نه پس شاهد زمان چاپ کړې ده.

"د بوډۍ ټال" يې د پښتو د کالمونو مجموعه ده چې اوس اوس د ایوب صابر ادبي ګلډ له خوا چاپ شوې ده. دې نه علاوه ایوب صابر بې شمېره لیکونه او مقالې د هغه وخت په اخبارونو او رسالو کښې چاپ شوي دي. ایوب صابر د يو شاعر ادیب نه علاوه يو رښتونی او زړور صحافي هم ؤ. د صحافت په مېدان کښې هغوی د خاورې او اولس ډېر خدمت کړی دی. پشاور نامه، د بوډۍ ټال، درنګ، چیلم کش او حجره يې په مختلفو اردو او پښتو اخبارونو کښې لیکلي شوي د کالمونو نومونه دي.

ایوب صابر نۀ صرف د پښتو په شعر و ادب کښې د جدیدو رجحاناتو پلوي ؤ بلکې داعي يې هم ؤ. يوه خبره د ذکر وړ ده چې که هر څومره ایوب صابر جدید نه جدید رجحان خپل کړی دی خو تقلید يې د چا هم نۀ دی کړی. پروفېسر داور خان داود لیکي:

"ایوب صابر د هېچا مقلد نۀ دی پاتې شوی خو بیا هم خپل ډېر مقلدین لري"(4).

ایوب صابر يو ترقي پسند لیکونکی ؤ. ترقي پسند لیکونکي د خواري کښ او مزدورکار د حقونو غوښتونکي وي او د دوی په کلکه ملاتړ کوي. د خان، سرمایه دار، جاګیردار او صنعت کار د انسان دښمنه رويو سخته غندنه کوي. ایوب صابر هم د خواري کښ او مزدور ملګری او د خان، سرمایه دار او جاګیردار مخالف دی خو يوې خوبۍ ایوب صابر په نورو ترقي پسندو کښې ممتاز کړی دی هغه په انسان کښې د انسان لټون دی. ایوب صابر که دهقان ته هم نظر کوي نو انسانیت په

کښې ګوري او خان کښې هم. د هغهٔ په نظر کښې دواړه انسانان دي او دواړه یو شان انساني فطرت لري. په دواړو کښې چې ورته یوه شریکه فطري کمزوري په نظر راشي نو بیا د حمایت او مخالفت په سبب هیڅ د مصلحت نه کار نهٔ اخلي او په جار وایي:

انســـانان دي پـــه سرشـــت کښـــې دواړه یـــو دي
نهٔ دهقـان کښـې انصـاف شـته دی نهٔ پـه خـان کښـې"(5)

د دې شعر متعلق قلندر مومند لیکي:

"انصاف د صابر دومره خوښ دی چې د شاعرانو د اجماع برخلاف هغه محض د انصاف په خاطر وایي:

خو د دې دا مطلب نهٔ دی چې ایوب صابر د خوارو او بې وسو د درد نه نا اشنا دی. هغه ځان په خپله دغه طبقه کښې ګڼي نو د خوار اولس د درده ځنګه بې خبره پاتې کېدی شي"(6).

انصاف د ایوب صابر په نزد تر ټولو غوره عمل دی نو ځکه هغه په خان او دهقان دواړو کښې یو شان انصاف لیدل غواړي. شاید چې په دې شعر ځینې خلق په ایوب صابر دا تور هم ولګوي چې دی د خان او دهقان په یو صف کښې د ودرولو مقصد دا دی چې ایوب صابر د خان او زورورې طبقې ملګری دی خو سلیم راز د دې اندېښنې په کلکه تردید کوي:

"د دې شعر په تشریح کښې ځینې شارحان وایي چې د صابر په نظر کښې خوار دهقان او خان یو شان ظالمان دي او بې انصافه دي. رجعت پسنده او استحصالي قوتونو ملګري خو په دې خوشحال دي چې ځه دهقان هم راسره وتړلی شو او خلق به دهوکه کړو خو دلته زهٔ په دې پوهېږم چې په دې شعر کښې دهقان او خان د طبقو نمایندګي نهٔ کوي بلکې د دوو افرادو ذاتي کردار د تنقید لاندې راغلی دی"(7).

لکه وړاندې ذکر شوی دی چې ایوب صابر د چا په پل پل نهٔ دی ایښی بلکې بېخي پخپله لاره تلی دی. صابر د سپینې او رښتیاخبرې علمبردار ؤ. خامۍ یې که په دوست کښې هم لیدلې ده نو ورته ګوته یې نیولې ده او خوبۍ یې د دښمن هم ستایلې ده. ایوب صابر ترقي پسند شاعر او ادیب ؤ خو تګ یې د ترقي پسندو په سترګو نه بلکې په خپلو سترګو کړی دی. د وړاندې ذکر شوي شعر موضوع یې په یو بل شعر کښې بیان کړې ده:

د وس وړې دي یارانو
خوار مزدور دی که لوی خان دی"(8)

دا به هر څوک غواړي چې رښتیا او سپینه خبره ولیکي خو سپینه او رښتیا خبره ډېر کم خلق لیکلی او وئیلی شي. اکثر په کښې د مصلحت ښکار شي. یا خو دوی د کومې سیاسي ګوند سره

تړلي وي نو دوی نۀ شي کولی چې هغه خبره ولیکي چې رښتیا وي ځکه چې داسې کولو سره دوی ته خپل انجام معلوم وي. دغه حال د مختلفو نظریو هم دی چې دوی یې ړوند تقلید کوي په اړه یې سپینه او رښتیا خبره نۀ شي کولی. ایوب صابر په هغه کمو خلقو کښې دی چې تل یې سپینه خبره کړې ده. د چا خوشحالۍ او خفګان ته یې نۀ دي کتلي. م ر شفق د ایوب صابر یوه وېنا را نقل کوي:

" تبصره وي که تنقید ، څۀ چې راته رښتیا ښکاري بس هم هغه لیکم او چې خپله رایې ورکوم نو په دې مې کار نۀ وي چې څوک دې پرې خفه شي یا خوشحاله شي"(9)

دغه صاف ګویي او جرات مندانه اظهار د ایوب صابر لوی انفرادیت دی. د سپینې او رښتیا خبرې جرات هغه شاعر کولی شي چې مخلص وي. ولې چې اخلاص هغه وسله ده چې د غر سره پرې هم ډغره وهلې کېدی شي. د ایوب صابر ژوند ته که وکتلی شي نو هغوی په خپل ژوند کښې لویو لویو غرونو سره ډغرې وهلې دي. د ایوب صابر د دې خصوصیت په اړه قلندر مومند لیکي:

"ایوب صابر یو مخلص دوست، مخلص انسان او مخلص شاعر دی. مخلص دوست د محرومو ښکار کېدی شي،مخلص انسان کله کله مایوسه شي،لېکن مخلص شاعر هیچرې ناکامه کېدی نۀ شي"(10)

د ایوب صابرصاف ګویي نۀ صرف پښتانۀ لیکونکي اعتراف کوي بلکې په اردودانه طبقه کښې هم د یو سپین ګو شاعر او ادیب په نوم ښۀ شهرت لري. د اردو یو ستر لیکوال احمد ندیم قاسمي د ایوب صابر په حقله لیکي:

*"وہ سچ بولتا ہے مگر اتنی خود اعتمادی اور تندی سے سچ بولتا ہے کہ چون وچرا قسم موضوعات اس کے ہاں بار نہیں پا سکتے۔ اس کا مطلب یہ تھا کہ ایوب صابر جامع کمالات شخصیت ہے"(11).*

د ایوب صابر شاعري یوه مقصدي شاعري ده. هغوی شاعري د وخت تیري یا ذهني عیاشي په غرض نۀ ده کړې بلکې د یو پاک، سپېڅلي او ساهو مقصد د لاندې یې کړې ده. هغه "ادب دپاره د ژوند" د نظریې کلک پلوي پاتې شوی دی. قام پرستي، وطن دوستي او انسان دوستي د ایوب صابر د شاعرۍ ستر موضوعات دي. عبدالکریم بریالی لیکي:

"شاعري یې فېشني نۀ وه بلکې د مقصدیت څخه ډکه وه، قوم پرستي او انسان دوستي یې په حقیقت ولاړه وه"(12).

د ایوب صابر د سپین ګویي دا حال دی چې خپل ځان یې هم نۀ دې معاف کړی. د پروفېسرمحمد نواز طائر په وېنا یې په خپل ځان چې څنګه او کوم انداز کښې لیک کړی دی د هغۀ مثال په پښتو ادب کښې نۀ ملاوېږي. هغه لیکي:

"ما چې د ځان نه پوستکي کوزول نو اول مې دا دعا غوښتې وه چې لويه خدايه! د حق وئيلو او د حق ليکلو توفيق راوبخښه. بيا چې ما خپل مکمل ليک ولوستو نو پوهه شوم چې لوی خدای زما دعا قبوله کړې ده او ما ځان په حق له دروغ بېخي نۀ دي ليکلي"(13).

که څوک د ايوب صابر د شخصيت او ژوند نه خبر وي او بيا دا ليک (زۀ، زما ژوند او شاعري) ولولي نو هغه د دې خبرې تصديق کولی شي چې ايوب صابر سل په سله رښتيا وئيلي دي. مسلمان نور هر څۀ کېدی شي خو دروغجن نۀ شي کېدی نو په دې حواله که ايوب صابر هر څۀ ؤ خو دروغجن نۀ ؤ ولې چې دروغ ګويي د منافقت نخښه ده. عملاً نۀ سهي خو عقيدةً هغه يو پوخ مسلمان هم ؤ. د ځان متعلق ليکي:

"زۀ مسلمان يم، پښتون يم، قوم پرست يم، انسان يم، باغي يم، بدعتي يم خو منافق نۀ يم"(14).

دا خو حقيقت دی چې رښتيا وئيل تراخۀ وي او خلق پرې خفه کېږي خو داسې نۀ ده چې ايوب صابر ته د رښتيا وئيلو انجام نۀ ؤ معلوم بلکې رښتيا وئيل د هغۀ فطرت ؤ او بحثيت انسان د خپل فطرت نه مجبور ؤ.

ليونی صابر خبر هم دی که نۀ دی
خېژوي سرې په دار سپينې خبرې"(15)

د پښتو په جديده شاعرۍ کښې د ايوب صابر ډېر لاس دی . هغوی د نوو شاعرانو ډېره مرسته کړې ده . ايوب صابر چې د بانګ حرم د پښتو برخې ايډيټر ؤ نو نوو شاعرانو ته يې خصوصي پاملرنه کوله او د هغوی حوصله افزايي به يې کوله چې د هغې ثمرات ډېر زر محسوس شول. هرکله چې ازاد نظم پښتو ته راغی او ځينې د هغه وخت زلمي شاعرانو ازاد نظمونه ليکل پېل کړو نو د ځينې مشرانو شاعرانو له خوا يو زبردست ردعمل مخې ته راغی. هغوی د ازاد نظم سخت مخالفت شروع کړو. هغوی په دې دليل د ازاد نظم د منلو نه انکاري وو چې دا د پابندې شاعرۍ اهميت کموي. ايوب صابر نۀ صرف ازاد نظم وليکلو بلکې د ازاد نظم تبليغ،دفاع او وکالت يې هم وکړواو مخالفينو ته يې داسې ځوابونه ورکړل چې يا خو هغوی ازاد نظم ومنلو او يا بيا د مخالفت نه لاس په سر شول او خاموشي يې اختيار کړه. نن چې څومره معياري ازاد نظمونه په پښتو کښې ليکلی شي دا د ايوب صابر د مبارزې نتيجه ده.

ايوب صابر په بنيادي توګه د نظم شاعر ؤ. په ځيګر خون کښې زياته برخه د نظمونو ده. حقيقت پسندي او مقصديت د ايوب صابر د نظمونو خاصه او حصه ده. د ايوب صابر نظمونه د ابلاغ ډېرې اوچتې نمونې دي. د ايوب صابر پېغام ډېر واضح او ښکاره دی هيڅ ابهام نۀ لري. د ايوب صابر د نظم په باب له زلمی نقاد خالد پښتون ليکي:

"د ایوب صابر نظمونه د مقصدیت نه ډک د سهل ممتنع بهترینې نمونې دي چې بې ساختګي او رواني پرېمانه لري.ځنه ځنه ځایونو کښې د علاقایي لهجې باوجود د ایوب صابر د پښتو کلهم ادب کښې هغه یواځینی شاعر دی چې فکر یې متوازي، دروند او ژبه یې د ټولو نه اسانه او د ابهام نه پاکه ده.په پېش منظر کښې یې شعور، ننګ او ازادي ځلېږي خو په پس منظر کښې د انساني ښېګړې یوه لاژواله نظریه په نظر راځي"(16).

د ځیګر خون د مطالعې نه څرګندېږي چې ایوب صابر د خپل سیمابي او شاعرانه طبیعت له کبله په یو ځای ولاړ نۀ دی پاتې شوی او هغۀ په خپله هم د دې خبرې تصدیق په بیان حلفي کښې کړی دی او خپل هر نظم ته یې د یوې ډرامې سره تشبیهـ ورکړې ده هغه لیکي:

"اصل خبره دا ده چې زما هر نظم د یوې ډرامې په مثال دی. په هره ډرامه کښې مختلف کردارونه دي،د هر کردار خپل ذهن دی،خپل فکر دی، خپله ژبه ده،خپل نفسیات دي، خپله فلسفه ده. ما ټول کردارونه خپل تابع نۀ دي ساتلي ازاد مې پرېښې دي او چرته چې خیال او فکر ازاد وي هلته تضادات خامخا سر راپورته کوي. د دغه تضاداتو سرونه که ما چیځنې کړي وی زما په شاعرۍ کښې به تصنع او منافقت پېدا شوی وی"(17).

خالد پښتون د ایوب صابر په ځیګر خون کښې موجودې دې قسم شاعرۍ ته تضادات نه بلکې د نظر لارې او روې وایې کومې چې هغوی فقط د خپل هدف ته درسېدو دپاره خپلې کړې وې، هغه لیکي:

"ایوب صابر د انساني ښېګړې نظرېې ته د رسیدو دپاره مختلفې لارې خپلې کړې دي او دغه مختلفې لارې لوستونکو ته د تضاداتو په شکل کښې په نظر راځي او ډېر لیکونکي به د ایوب صابر مختلفو رویو او مختلفو لارو ته تضادات وایي او دې لړ کښې به د ایوب صابر ځیګر خون کښې بیان حلفي نه د هغۀ جملې هم نقل کوي خو دا ضروري هم نۀ ده ځکه چې تضاد هغه ته وایي چې خپل نظر پرېږدي خو ایوب صابر تر اخره د انساني ښېګړې یو نظر لرلو، خو هغه د نظر هدف ته د رسېدو دپاره مختلفې لارې خپلې کړې وې چې مونږ ورته رویې وئیلی شو، دا دوخت ضروتونه دي"(18).

د ایوب صابر د سپیناوي او خالد پښتون د دې دلیل نه پس په هغۀ د تضاداتو تنقید څۀ جواز نۀ لري. ایوب صابر خپله شاعري د یوې خاص طبقې او نظرېې پورې محدوده کړې نۀ ده بلکې د هغوی په شاعرۍ کښې د هر فکر و نظر سره تعلق لرونکو خلقو دپاره د دلچسپۍ مواد موجود دي. ولې چې هغوی خپل لوستونکي په نظر کښې نیولي وو او د هغوی د ذوق او غوښتنو نه هم خبر ؤ. ایوب صابر د ټي ایس ایلیټ په حواله لیکي:

"دا خبره ډېر اهمیت نۀ لري چې د یو شاعر لوستونکي یا اورېدونکي په تعداد کښې زیات وي یا کم وي. د زیات اهمیت خبره دا ده چې د یو شاعر د لوستونکو او اورېدونکو څۀ لږ ډېر تعداد دې په هر نسل او هرې زمانې کښې وي"(19).

نو دا خبره به سمه وي چې ایوب صابر په هغه وخت کښې هم په عامو خاصو دواړو طبقو کښې ښۀ مقبول ؤ او نن هم. څومره چې ورته په پاکستان کښې په درنه سترګه کتلی شي له هغې نه زیات درنوی ورته په افغانستان کښې هم ورکولی شي. دا هم هغه تضادات ، د نظر لارې او روئې دي چې زۀ ورته د ایوب صابر انفرادیت وایم چې ایوب صابر یې فنا کېدو ته نۀ دی ورکړی.

ځینې خلق وایي چې شاعر چې څۀ وایي او لیکي نو ضروري نۀ ده چې په هغۀ دې په خپله ارومرو عمل کوي. خو که په غور وکتلی شي نو په اصل کښې تضاد هم دې ته وایي چې په قول و فعل کښې یوالی نۀ وي. ایوب صابر ته دا انفرادیت هم حاصل دی چې د هغوی شاعري د هغوی د ژوند او شخصیت ترجمانه ده. د ایوب صابر یو نژدې کلیوال او ادبي ملګری ښاغلی سعدالله خان لالا په یوه مرکه کښې د یو سوال په ځواب کښې لیکي:

"د هغوی شاعري د هغوی د ژوند او شخصیت رښتونې عکاسي کوي. شاعري او شخصیت کښې یې هیڅ قسمه تضاد نشته"(20).

ایوب صابر د معیار قایل ؤ. په هغه وخت کښې چې په پښتو کښې به ډېر کم کتابونه چاپ کېدل بیا هم هغوی د غېر معیاري کتاب د چاپ کولو مخالفت کولو. ایوب صابر د نوي کتاب چاپ کېدو دپاره یوه پېمانه او معیار ټاکلی ؤ. یوه خبره چې د ایوب صابر متعلق ډېره مشهوره ده ښېخي د کاڼي کرښه ده چې عبدالکریم بریالي د فضل غني غني په حواله لیکلې ده:

"چې په کوم کتاب کښې لس اسماني شعرونه نۀ وي نو چاپول یې نۀ دي پکار"(21).

د اسماني شعرونو نه د ایوب صابر مطلب د شاعرخپل او نوی خیال دی. نوی او ځانګړی خیال څۀ اسان کار نۀ دی. مونږ ګورو چې ښۀ شاعران هم ښېخي خپل خیال ډېر کم راوړی شي اکثر زاړۀ شراب په نوې پیاله کښې پېش کوي چې د ایوب صابر د وېنا تر مخه اسماني شعر ورته نۀ شي وئیلی کېدی. د ایوب صابر دا وېنا ډاکټر فضل دین خټک لږ په مختلف رنګ کښې لیکلې ده:

"که چا یو اسماني شعر هم لیکلی وي نو هغه شاعر د ښو شاعرانو سره ځان په صف کښې شامل کړي "(22).

که د ایوب صابر د ځیګر خون تنقیدي جایزه واخستلی شي نو داسې ډېر شعرونه به په کښې وموندلی شي چې هغه د ایوب صابر ښېخي خپل او د نوي خیال پېداوار وي. هر څو که ایوب صابر د نظم شاعر دی خو بیا هم د هغوی په هر دریم څلورم غزل کښې یو نه یو د اوچتې پایې شعر په نظر

راځي. دلته د ځيګر خون نه ځو داسې شعرونه رانقل کولی شي چې په ټوله پښتونخوا کښې يې تذکرې کېږي او دا خبره هم هيڅ مبالغه نۀ لري چې دا شعرونه بيخي د ايوب صابر خپل دي.

وچو شګو کښې کورونه نۀ جوړېږي
په هوا کښې محلونه نۀ جوړېږي
خدائيګو هغه لوپټې مې خوښې نۀ دي
چې له کومو پرچمونه نۀ جوړېږي
د عمل قوت پېدا کړئ په خپل ځان کښې
په خبرو خو قامونه نۀ جوړېږي
قلم ډوب کړه خپلې وينې کښې صابره!
بې له وينې ښۀ شعرونه نۀ جوړېږي(23)

او دې شعرونو ته هم پام وکړئ چې د جدت او د ځانګړې خيال ځومره ښې نمونې دي.

له زړګي چې وينه وڅڅوم ببت شي
زمانې! زما نقصان ته خو خيال وکه(24)

انسانان دي په سرشت کښې دواړه يو دي
نۀ دهقان کښې انصاف شته دی نۀ په خان کښې(25)

څنګه تېرېږي اشنا وايه کنه
حال د نيمګړې دنيا وايه کنه
دغه په غم لړلي سترې ژوندون
چا سره وکړه وفا وايه کنه(26)

دا خبرې کېږي اوس زما د کلي جونو کښې
سپين ويښتۀ زرغون شو د صابر غريب برېتونو کښې(27)

د انسان په وينه پايي
خدايه دا څنګه انسان دی(28)

ايوب صابر ازاد نظمونه هم ليکلي دي او پابند هم. په ازاد نظمونو کښې يې د "ګمنام سپاهي" په شان يو شهرۀ افاق نظم هم ليکلی دی چې په دې موضوع د ايوب صابر نه وړاندې صرف د انګلستان ټامس ګرې ليکل کړې ؤ چې ايوب صابر يې په دې نظم کښې ذکر هم کړی دی. دا نظم د

بین الاقوامي معیار نظم دی چې موضوع یې افاقي بڼه لري. دا نظم په بیانیه انداز کښې د هغه سپاهي د خولې فریاد دی چې د ژوند په هر ډگر یې قرباني ورکړې ده خو هیچا هم د دۀ تذکره نۀ ده کړې بلکې د دۀ په ځای یې جرنیلان او افسران یاد کړي دي او د وخت واکدارانو د بهادرۍ تمغې هم دغه جرنیلانو افسرانو ته ورکړې دي.

په پابندو نظمونو کښې یې "سپوږمۍ ته" د خپل نوعیت یو منفرد نظم دی. د موضوع په لحاظ طبقاتي نظم دی خو د پېشکش په لحاظ داسې نظم دی چې په پښتو شاعرۍ کښې یې مثال نۀ ښکاري. هسې خو د سپوږمۍ په موضوع ټولو لویو وړو شاعرانو شعرونه او نظمونه لیکلي دي خو ایوب صابر چې په کوم انداز د سپوږمۍ سره هم کلام دی هغه صرف د ایوب صابر انداز کېدی شي. سپوږمۍ چې د حسن علامت گڼلی شي. تقریباً هر شاعر یې حسن ته د خپل محبوب سره تشبیه ورکوي. څوک ورته د هجر په شپه د جانان گیلې کوي او څوک ورنه د خپل محبوب د حال احوال پوښتنې کوي. څوک یې احسان مند وي او څوک یې احسان ځکه نۀ مني چې جانان یې د دیوالۀ په سیوري ځي.

سپوږمۍ! په ما دې احسان نۀ شته
زما لالی د دیوالۀ سیوري ته ځینه"(29)

پروفېسر ډاکټر اقبال نسیم خټک پخپل کتاب دردانې کښې د پښتو د نظم د درو لویو شاعرانو یو تقابلي جایزه اخستې ده. هغه لیکي:

"سپوږمۍ د شاعرانو دپاره یوه ښکلې موضوع گرځېدلې ده. څوک د محبوب رخسار ته د سپوږمۍ سره تشبیه ورکوي څوک د خوارلسمې سپوږمۍ شپې ته سیمیایي شپه وایي. دې وخت زما د مطالعې په مېز درې شعري مجموعې پرتې دي چې د سپوږمۍ په موضوع په کښې شعرونه لیکلي شوي دي په دغو مجموعو کښې د خدای بخښلي فضل حق شیدا "اسویلي" د ښاغلي ایوب صابر "ځیگر خون" او د ښاغلي مجذوب "لعل او کتي لعل" شامل دي زۀ د دوی د کلام نه نمونې را اخلم او بیا فېصله په لوستونکو پرېږدم چې د چا سپوږمۍ ښکلې ده؟"(30)

دلته د پروفېسر اقبال نسیم خټک اقتباس د را نقل کولو مقصد دا دی چې خبره څرگنده شي او یوه فېصله وکړی شي چې کومه سپوږمۍ د ادب د اسمان په کوم مقام ولاړه ده. دلته باید چې ډاکټراقبال نسیم خټک صېب خپله فېصله اورولې وی ځکه چې دا کتاب د زده کونکو دپاره لیکلی شوی دی خو هغوی داسې نۀ دي کړي بلکې فېصله یې په لوستونکو پرېښې ده. خبره داسې هم نۀ ده، ښاغلي دا نظمونه د مجذوب په نظم گویۍ د بحث په دوران کښې را اخستي دي او په پس منظر کښې یې صفا ښکاري چې هغوی د مجذوب سپوږمۍ ته په شیدا او صابر په سپوږمۍ اولیت ورکوي. دې کښې هیڅ شک نشته چې مجذوب د عصر حاضر د نظم یو لوی نوم دی خو بل خوا شیدا

او صابر هم د پښتو په جديد نظم کښې دوې سترې نامې دي. د دې درې واړو شاعرانو د ذکر شوو نظمونو ته که په تنقيدي نظر وکتلی شي نو د شېدا او مجذوب په سپوږمۍ کښې څۀ واضح فرق نۀ محسوسېږي. دواړه په يو انداز سپوږمۍ ته مخاطب دي. د حسن کرشمې يې ستايي خو ايوب صابر دلته هم خپل انفراديت ښودلی دی او ورسره داسې په زړۀ لړزونکي انداز کښې مخاطب دی چې د خپلې ټولنې او چاپېرچل پوره داستان يې ورته اورولی دی او ورسره يې د خپل غم په ځای د اولس غم ژړلی دی.

ايوب صابر د شلمې صدۍ د پښتو د شعر و ادب هغه ستر نوم دی چې تر څو د پښتو يو لوستونکی هم وي نو ايوب صابر به ژوندی وي. هغه په يو وخت کښې شاعر، اديب، ډرامه نګار، افسانه نګار، کالم نګار، محقق او نقاد ؤ. ايوب صابر په دې ټولو اصنافو کښې د کمال درجې کار کړی دی. ايوب صابر د قلم سره سره د پښتو د شعر و ادب عملي خدمت هم کړی دی او په دې خو هر څوک ګواه دي چې هغوی د پوره يو عهد ابياري کړې ده. هغوی د "ساهو ليکونکي کوهاټ" داسې سرپرستي وکړه چې له امله يې ډېر داسې ګلونه رازرغون شول چې نن يې ورمې په ټوله پښتونخوا کښې خورې ورې دي. رومان ساغر، رحمت شاه رحمت،قيوم مروت، سعدالله خان حېران، سعادت سحر، سعيد رهبر،اعجاز خټک، عدنان بخاري، خالد پښتون او داسې نور. په اوسني وخت کښې چې کوم معياري ادب په کوهاټ او خوا و شا کښې تخليق کېږي دا ټول د ايوب صابر برکات او احسانات دي. لنډه دا چې

د صابر وېنا که نظم وي که نثر
يو مقام لري په نوي دبستان کښې(31)

# حوالې

(1) صابر، ایوب، زۀ، زما ژوند او شاعري، مشموله، درې میاشتنۍ غږ کوهاټ، د ایوب صابر نمبر ،مدیر اعلي، قیوم مروت، کوهاټ ادبي جرګه، جنوري تا مارچ ۲۰۱۰، مخ ۷۵
(2) شینواری، امیر حمزه، بحواله، داور خان داود ،د ادب بابا نانک، مشموله، ظهورونه، مرتب، محمد ظهور ازاد قریشي، وحدت پرنټرز پېښور، اپرېل ۲۰۰۰، مخ ۴۱۷
(3) بریالی، عبدالکریم، اروابناد ایوب صابر، مشموله، درې میاشتنۍ غږ، مخ ۱۷
(4) داود ، داورخان، پروفېسر ،د ادب بابا نانک، مشموله، ظهورونه، مخ ۴۱۲
(5) صابر، ایوب، ځیګر خون، دریم چاپ، پېښور، عامر پرنټ اینډ پبلشرز، ۲۰۱۴، مخ ۱۴
(6) مومند ، قلندر، مقدمه، ځیګر خون، مخ ۱۵
(7) سلیم راز، د خپل عصر ترجمان، مشموله، درې میاشتنۍ غږ، مخ ۲۷
(8) ځیګر خون، مخ ۱۴۷
(9) م. ر شفق، دا یم روان شومه زۀ، مشموله، درې میاشتنۍ غږ،مخ۳۲
(10) مومند ، قلندر، مقدمه، ځیګر خون، مخ ۱۲
(11) قاسمی، احمد ندیم، ایک دلاویز شخصیت، مشمولہ، نایاب، ایوب صابر نمبر، مرتب،احمد پراچہ، مستجاب پبلیکشنز محلہ پراچگان کوہاٹ، ستمبر۱۹۸۸، ص ۸
(12) بریالی، عبدالکریم، اروابناد ایوب صابر، مشموله، درې میاشتنۍ غږ، مخ ۹
(13) صابر، ایوب، زۀ، زما ژوند او شاعري، مشموله، ظهورونه، مخ ۴۷۳
(14) صابر، ایوب، بیان حلفي، مشموله، ځیګر خون، مخ ۲۱.۲۰
(15) ځیګر خون،مخ ۱۰۸
(16) پښتون، خالد ، د ځیګر خون نظم او ایوب صابر، مشموله، درې میاشتنۍ غږ،مخ ۲۷
(17) صابر، ایوب، بیان حلفي، مشموله، ځیګر خون، مخ ۲۰
(18) پښتون، خالد ، د ځیګر خون نظم او ایوب صابر، مشموله، درې میاشتنۍ غږ، مخ ۷۰
(19) صابر، ایوب، بیان حلفي، مشموله، ځیګر خون، مخ ۲۴
(20) سعدالله خان لالاسره مرکه، مشموله، درې میاشتنۍ غږ،مخ ۵۵
(21) بریالی، عبدالکریم، اروابناد ایوب صابر، مشموله، درې میاشتنۍ غږ، مخ ۱۲
(22) ختک، فضل دین، ډاکټر، مقدمه، د فکرونو انګازې، شاعر ،رحمت شاه رحمت، جدون پرنټنګ پرېس پېښور، ۲۰۰۲، مخ ۲
(23) ځیګرخون، مخ ۲۵.۲۴

(24) هم دغه کتاب، مخ ۱۳۷
(25) هم دغه کتاب ، مخ ۱۴۲
(26) هم دغه کتاب ، مخ ۱۰۹
(27) هم دغه کتاب ، مخ ۱۳۵
(28) هم دغه کتاب ، مخ ۱۴۷
(29) شاهين، سلمٰی، ډاکټر، روهي سندرې، دويم چاپ، جدون پرېنټنګ پرېس پېښور، ۲۰۱۳، مخ ۴۴۲
(30) خټک، نسيم، محمد اقبال، ډاکټر، دردانې، دويم ايډيشن، حرم پرنټرز محله جنګي پېښور، ۲۰۰۰، مخ ۲۴۸ .۲۵۱
(31) ځيګر خون،مخ ۱۴۲